

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
# اباديٍ
هفته‌نامه آبادی

ګڼه: ۱۸ | مسلسل نمبر: ۱۰۸ | پنجشنبه، د صفر المظفر ۱۳مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## په افغانستان کې د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید تفاهم‌لیک لاسلیک شو



۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد له ملي سوداګر او پانګوال میرویس عزیزي سره وکتل



۲ مه صفحه

## د لس زره ټنه کلني ظرفیت په درلودو سره د ممیزو د پروسس فابریکه پرانیستل شوه



۳مه صفحه



## سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۱۱مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز کې د اوبو او انرژۍ وزارت او عزیزي انرژۍ خصوصي شرکت ترمنځ د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید، لېږد او ویش په برخه کې تفاهم‌لیک لاسلیک شو. د دغه تفاهم‌لیک د لاسلیک پرمهال د عزیزي ګروپ عمومي اجرائیوي رئیس میرویس عزیزي وویل، د اسلامي امارت په همکارۍ او ملاتړ د دغه پانګونې لپاره قوي هوډ او پوره ژمنتیا لري. عزیزي انرژۍ خصوصي شرکت به د هېواد په مختلفو برخو کې له ګازو، ډېرو سکرو، اوبو، باد او لمر څخه لس زره میګاواټه برېښنا تولید کړي. د برېښنا اهمیت او ارزښت په ملي او نړیواله کچه د بشر په پرمختګ او د یوه هېواد د اقتصاد په پیاوړتیا کې ډېر مهم رول لري. برېښنا په ژوندانه او صنعتي فعالیتونو کې تر ټولو زیات رول لوبولی دی. برېښنا د صنعتي انقلاب د دویمې مرحلې (د ۱۹مې پېړۍ په وروستیو کې) یو له مهمو محرکو څخه وه او تر اوسه هم په صنعتي او اقتصادي پرمختګ کې له زیات اهمیت څخه برخمنه ده. په نننۍ نړۍ کې د اقتصادي ودې او پرمختګ یو اساسي بنسټ همدا برېښنا ده. برېښنا د نننۍ نړۍ د اقتصاد او پرمختګ یو له مهمو بنسټونو څخه دی. ځکه د صنعت، سوداګرۍ، روغتیا، زده کړو او په ټوله کې په ورځنۍ ژوند کې ډېر مهم رول لري. کله چې په کافي اندازه برېښنا وي نو له دې سره د صنعتي فابریکو ماشینونه په حرکت او پرمټ یې د تولیداتو په کچه کې زیاتوالی راځي او د تولیداتو کیفیت ښه کېږي. د دې په خوا کې د برېښنا په مرسته اتومات ماشینونه او ټکنالوژۍ کارول کېږي چې ورسره لګښتونه او وخت دواړه کمېږي.

د برېښنا په شتون کې په سوداګرۍ او کاروبار کې اسانتیاوې رامنځته کېږي، مالي خدمتونه لکه برېښنايي بانکوالي، انلاین سوداګري او برېښنايي تادیاتو په برخه کې چټکوالی رامنځته کېږي. د برېښنا په شتون کې د کار مؤثریت لوړیږي، کاري فرصتونه ورسره برابرېږي او ترځنګ یې د خلکو د ژوند کیفیت لوړیږي. له لمر، باد او اوبو څخه د برېښنا په تولید سره د فوسیلي سون توکو کچه ټیټېږي او په دې سره چاپیریال خوندي پاتې کیدای شي. لنډه دا چې برېښنا د یوه هېواد په پرمختګ کې رغنده رول لوبوي او اړینه ده چې هر هېواد د برېښنا د تولید په برخه کې له خپلو سرچینو ګټه پورته او د اړتیا وړ برېښنا چمتو کړي. د برېښنا اهمیت ته په کتو اسلامي امارت هم هڅه کوي چې له کورنیو سرچینو څخه په استفادې سره د برېښنا په سکتور کې هېواد ځان بسیاینې ته ورسوي. اسلامي امارت خپله هم د برېښنا د تولید پروژې پیل کړې دي، د دې ترڅنګ یې پانګوالو ته په دې سکتور کې اسانتیاوې او لازم سهولتونه برابر کړي دي او د خصوصي سکتور له لوري هم د لمریزې برېښنا یو شمېر پروژې پیل شوې دي. خو د لس میلیارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره میګاواټه برېښنا تولید به افغانستان د برېښنا په برخه کې ځان بسیاینې ته ورسوي. دا یو ستر ګام دی، کله چې افغانستان د برېښنا په برخه کې ځان بسیاینې ته ورسیږي، نو بیا به دا حتمي وي چې صنعت، سوداګرۍ، کرنه او په ټوله کې اقتصادي پرمختګ به مو په نصیب شي.

# په افغانستان کې د لس ميليارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره ميګاواټه برېښنا د توليد تفاهم‌ليک لاسليک شو



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضـــور کې نن د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اسد مياشتې په ۱۱مه نېټه د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکـــز کې د اوبـــو او انـــرژۍ وزارت او عزيـــزي انرژي خصوصي شرکت ترمنځ د لس ميليـــارد ډالرو په پانګونې سره د لس زره ميګاواټه برېښـــنا د توليد، لېږد او ويش په برخه کې تفاهم‌ليک لاسليک شو.

د دغه تفاهم‌ليک د لاســـليک پرمهال د عزيزي انرژي خصوصي شرکـــت عمومـــي رييس ميرويـــس عزيزي وويل، د اسلامي امارت په همـــکارۍ او ملاتړ د دغه پانګونې لپـــاره قوي هوډ او پوره ژمنتيا لري چې سر له سبا به يې عملي چارې پيل شي.

عزيزي انرژي خصوصي شرکت بـــه د هېواد په مختلفو برخو کې له ګازو، ډبرو ســـکرو، اوبـــو، باد او لمر څخه لس زره ميګاواټه برېښـــنا توليد کړي. په دې سره به له ۷ تر ۱۰ کلونو په جريان کې افغانســـتان د برېښنا توليد پـــه برخه کې بشـــپړې خودکفايۍ ته ورســـېږي او ان بهرنيـــو هېوادونو ته به هم برېښـــنا صادره کړي. د لس زره ميګاواټه برېښـــنا څخه به څلور زره ميګاواټه برېښنا عامو هېوادوالو او شـــپږ زره ميګاواټه به صنعتي فابريکو تـــه ځانګړې وي، چې له مخې به يـــې په زرګونو نوې فابريکې جوړې شي، پـــه ميليونونو افغانانو ته به د کار زمينـــه برابره او د هېـــواد اقتصاد بـــه ورسره د پام وړ پرمختګ وکړي.

د دغه تفاهم‌ليک له لاســـليک وروســـته به سبا ورځ (د اســـد مياشـــتې ۱۲مه نېټه) د اوبو او انرژۍ وزارت او عزيزي انرژي خصوصي شرکـــت تخنيکي ټيمونه اړوندو ســـيمو ته لاړ شي، د لسو ورځو په جريان کې به سروې بشـــپړه کړي او په راتلونکو شـــپږو مياشـــتو کې به يې ډيزاين چمتو شي. له شپږ مياشتو وروسته به په لومړي سر کې له دوه تـــر درېيو زرو ميګاواټو برېښـــنا د توليد پروژو عملي چارې پيل شي.

# محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند د هېواد له ملي سوداګر او پانګوال ميرويس عزيزي سره وکتل

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اســـد مياشـــتې په ۱۱مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د هېواد له ملي سوداګر او پانګوال ميرويس عزيزي سره وکتل. د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال په لومړي سر کې د عزيزي ګروپ عمومـــي رييس ميرويس عزيزي او د هغه تخنيکي ټيم ته ښـــه راغلاســـت ووايه او په هېواد کې د لس زره ميګاواټه برېښـــنا د توليد په برخه کې يې د عزيزي انرژۍ شرکت د لس ميليارد ډالره پانګونې هرکلی وکړ. محترم ملا صاحب ښاغلي ميرويس عزيزي ته د اسلامي امارت له لوري د پـــوره همـــکارۍ او ملاتـــړ ډاډ ورکړ او ويـــې ويل، چې اوســـمهال په هېواد کې د پانګونې لپاره ښـــه زمينه برابره شـــوې او د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب د فرمان له مخې پانګوالو او ســـوداګرو ته لازمې اسانتياوې برابرې او کورنيو توليداتو ته لومړيتوب ورکړل شوی دی.

د عزيزي انرژۍ شرکت عمومي رييس ميرويس عزيزي د خپلو خبرو پرمهال وويل، له لسيزو جګړو او ناخوالو وروسته اوسمهال د هېواد د ابادۍ ښه فرصت برابر شوی. نوموړي



ابادي

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

زیاته کړه، له همدې فرصت څخه یې په استفادې په هېواد کې د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید په برخه کې پانګونه پیل کړه، چې له مخې به یې د هېواد صنعت او کرنه وده وکړي او په زیات شمېر هېوادوالو ته به کاري فرصتونه رامنځته کړي. ښاغلي عزیزي د اسلامي امارت له مسوولینو مننه وکړه چې په اړوندو برخو کې یې پوره همکاري ورسره کړې او هغه ټینګار وکړ، چې د یادې پانګونې او پروژو د ښه تطبیق په موخه به د اړوندو وزارتونو له مسوولینو سره وخت پر وخت لیدنې کوي. ښاغلي عزیزي زیاته کړه، پر دې سربېره چمتو دی چې په کابل کې د سرطاني ناروغیو د درملنې په موخه په ټولو معیارونو د برابر روغتون چارې هم په نږدې وخت کې پیل کړي.



## د لس زره ټنه کلني ظرفیت په درلودو سره د ممیزو د پروسس فابریکه پرانیستل شوه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په اتمه نېټه د کابل ولایت په استالف ولسوالۍ کې د ممیزو د پروسس فابریکه پرانیستل شوه. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې فابریکې د فعالیت پیل د کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړولو په برخه کې مهم ګام یاد کړ او ویې ویل، په دې سره به د سیمې اقتصاد په حرکت راشي، صادرات به معیاري بڼه غوره کړي او سلګونو هېوادوالو ته به د کار زمینه هم برابره کړي، چې دا د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته کولی شي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، اسلامي امارت د نورو برخو ترڅنګ د کرنې سکتور ته هم ځانګړې پاملرنه کړې او د کرنیز اقتصاد د ودې په هدف د اوبو مدیریت بېلابېلې پروژې پیل شوې. محترم ملا صاحب وویل، اسلامي امارت د سیمې او نړۍ هېوادونو ته د کرنیزو محصولاتو د صادراتو لپاره اسانتیاوې رامنځته کړې دي، دغو محصولاتو ته یې د بازارموندنې په موخه نندارتونونه جوړ کړي او پر هغو وارداتو یې تعرفې لوړې کړې دي، چې په کور دننه تولیدېږي.

حاجي ملا صاحب زیاته کړه چې همداراز اسلامي امارت د کرنې سکتور د پیاوړتیا لپاره د کورنیو کرنیزو محصولاتو کارولو ته لومړیتوب ورکړی، د اوبو لګولو سیستمونو د ښه والي، سړو خونو د ایجاد او د پروسس او بسته بندۍ خونو د جوړولو په برخه کې هم پرمختګ شوی. محترم ملا صاحب بهر ته د کرنیزو محصولاتو د صادراتو پر کیفیت او بسته‌بندۍ ټینګار وکړ او دا یې د افغانستان د اعتبار او سوداګریزو اړیکو لپاره مهم وبلل.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې اسلامي امارت د سوداګرۍ کچې زیاتېدو لپاره پر سیمه‌ییز اتصال ډېر تمرکز کړی او له نیکه‌مرغه اوسمهال د افغانستان د اوسپنې پټلۍ شبکې پراختیا موندلې چې پرمټ یې له ډېرو هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې ټینګې او پراخې شوې دي. هغه زیاته کړه چې اسلامي امارت هڅه کوي څو د لاجوردو دهلېز په بشپړ ډول فعال شي او په دې اړه یې د ایکو سازمان په وروستۍ غونډه کې هم د دغه دهلیز له ښکېلو هېوادونو سره خبرې کړې دي، څو افغانستان د اروپا بازارونو ته لاسرسی پیدا کړي.

د دغه فابریکې د پرانیستې پرمهال د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د هېواد په اقتصادي وده کې د

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اوونيزه اباد‌ي
هفته‌نامه آبادی

خصوصي سکټور او پانګوالو رول مهم وباله او ویې ویل، پانګوالو ته یې په مختلفو برخو کې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. هغه زیاته کړه، ټول پانګوال کولی شي پر کرنه او صنعت سربېره، د کانونو، انرژۍ، مخابراتو، ترانسپورټ او خدماتو په برخو کې هم پانګونه وکړي. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د افغان سمون د ممیزو د پروسس فابریکې مسوولینو د پانګونې او د فعالیت د پیل هرکلی وکړ او هغوی ته یې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ. محترم ملا صاحب د دې فابریکې له مسوولینو وغوښتل چې د کمیت پر ځای کیفیت او معیاري پروسس او بسته‌بندۍ ته لومړیتوب ورکړي. د یادونې وړ ده چې د سمون د ممیزو د پروسس فابریکه په ۱۲۸ جریبه ځمکه جوړه شوې، ۸ میلیون ډالر پانګونه پکې شوې او په کلني ډول د ۱۰ زره ټنه ممیزو د پروسس وړتیا لري. د دغه فابریکې له لوري پروسس او بسته‌بندي شوي ممیز په روسیې، سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو، هند، کاناډا، امریکا، برېتانیا او د ختیځې اسیا هېوادونو ته صادر شي.

# لوګر کې د څلویښت میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې چارې پیل شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په نهمه نېټه د لوګر ولایت په محمدآغه ولسوالۍ کې د څلویښت میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې چارې پیل شوې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لوګر ولایت کې د څلویښت میګاواټه لمریزې برېښنا پروژې د کار پیل د دغه ولایت او په ټوله کې د افغانستان د اقتصادي ودې له پاره ښه فرصت وباله او زیاته یې کړه، د دغو پروژو په بشپړېدو سره به په لوګر ولایت کې د برېښنا د کمښت ستونزه تر یوې کچې راکمه ، صنعتي فعالیتونه به زیات او ګڼو هېوادوالو ته به کاري فرصتونه ایجاد شي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، د دې پروژو په تطبیق سره به په لوګر ولایت کې اقتصادي فعالیتونه زیات او د محمد اغې صنعتي پارک د برېښنا ستونزه به هم حل شي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند برېښنا د هېوادونو د پرمختګ له پاره مهمه اړتیا وبلله او د هېواد د وروسته پاتې والي یو لامل یې د کافي برېښنا نشتوالی یاد کړ. محترم ملاصاحب وویل، افغانستان د انرژۍ د تولید ډېرې سرچینې لري، خو له بده مرغه د انرژۍ له دغو سرچینو څخه سمه استفاده نه ده شوې چې له امله یې هېواد په بهرنۍ برېښنا متکي دی او هر کال سلګونه میلیون ډالره د برېښنا په بدل کې نورو هېوادونو ته ورکوي.




محترم حاجي ملا صاحب په خپلو خبرو کې وویل، د اسلامي امارت په راتګ سره د نورو سکتورونو ترڅنګ د انرژۍ سکتور کې هم د پام وړ پرمختګ شوی او په مختلفو ولایتونو کې د نوې کېدونکې انرژۍ د تولید پروژې پیل شوې او د انرژۍ د تولید ترڅنګ د برېښنا د وېش، تنظیم، صنعتي سیمو او هېوادوالو ته د انرژۍ د رسولو یو شمېر پروژې هم تر کار لاندې دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، اسلامي امارت کلک هوډ کړی چې افغانستان به د انرژۍ له اړخه پرځان بسیا کوي او دا هېواد کولای شي نه یوازې د خپلې اړتیا وړ برېښنا تولید کړي بلکې دا ظرفیت لري چې حتی نورو هېوادونو ته هم خپله برېښنا صادره کړي، خو د دې له پاره اړتیا ده چې په هېواد کې اوبه مدیریت او له لر او بر څخه سالمه استفاده وشي چې اسلامي امارت په همدې موخه اوږد مهاله پلانونه تر کار لاندې نیولي دي.

محترم ملا صاحب د پروژو له قراردادي شرکت څخه وغوښتل چې د کار کیفیت ته جدي پام وکړي او په ټاکلي وخت یې بشپړ کړي.

دا پروژه چې د لوګر ولایت په محمدآغه ولسوالۍ کې پلې کېږي دوې برخې لري چې یوه یې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید دستګاه جوړول دي چې په بشپړولو یې ۲۸ میلیون ډالره لګښت راځي. د دې پروژې بله برخه د ۱۲۶ میګاولټ امپیر سب استیشن جوړول او د برېښنا د انتقالي لین غځول دي چې ۷ میلیونه او ۶۰۰ زره ډالره لګښت لري. دا پروژه چې په پام کې ده په ۱۸ میاشتو کې یې د جوړولو چارې بشپړې شي، د سیمې ۴۰ زره کورنیو ته به د اړتیا وړ برېښنا ورسوي او د محمدآغې د صنعتي پارک د برېښنا د کموالي ستونزه به هم حل کړي.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اباديِ اوونيزه
هفته‌نامه آبادی



# اخبار اقتصادی هفته

## امضای ۴۵ توافق‌نامه تجاری میان افغانستان و ازبیکستان

در نشست تجارتی مشترک میان سکتور خصوصی افغانستان و ازبیکستان، ۴۵ توافق‌نامه تجاری به ارزش بیش از ۲۰ میلیون دالر امضا شد.به گفته مقام‌های امارت اسلامی و نمایندگان سکتور خصوصی، این توافق‌نامه‌ها می‌تواند زمینه‌ساز گسترش سرمایه‌گذاری و افزایش حجم تجارت میان دو کشور شود. در همین حال، نورالدین عزیزی سرپرست وزارت صنعت و تجارت، گفت که افغانستان تلاش دارد سطح تجارت با ازبیکستان را به سه میلیارد دالر افزایش دهد. آقای عزیزی در این باره گفت: «باید تلاش شود تا سقف تجارت ما افزایش یابد و تعهدات در قبال تجارت نیز بیشتر گردد. واردات و صادرات ما باید گسترش یابد، نه اینکه فقط واردکننده باشیم.» محمد یونس مومند معاون اول اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری گفت: «ضروری است که از طریق ترکمنستان، ازبیکستان، ترکیه، قزاقستان و آذربایجان یک اتاق منطقه ای مشترک داشته باشیم.» رییس اتاق تجارت و سرمایه گذاری، با اشاره به توسعه روابط تجاری میان دو کشور تأکید کرد که اکنون فرصت‌های مناسبی برای گسترش این روابط و سرمایه‌گذاری فراهم شده است. سید کریم هاشمی رییس اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری گفت: « امضای موافقت‌نامه‌های تجارت ترجیحی میان دو کشور، امیدها برای رشد و توسعه تجارت میان افغانستان و ازبیکستان را افزایش داده است؛ اما تا زمانی که تسهیلات لازم قنسولی برای صدور ویزا فراهم نشود، شاهد گسترش واقعی تجارت نخواهیم بود.» آی‌بیک عثمانوف سفیر ازبیکستان در کابل، نیز در این نشست بر تعهد کشورش به گسترش همکاری‌های اقتصادی با افغانستان تأکید کرد و افزود که میزان تجارت میان کابل و تاشکند در سال جاری سه برابر افزایش یافته است. او در این باره گفت: «در نیمه نخست سال جاری، صادرات افغانستان به ازبیکستان ۳۰۰ درصد افزایش یافته است.» در پایان نشست، مسؤلان سکتور خصوصی هر دو کشور بر ضرورت تسهیل صدور ویزا، اعمال تعرفه‌های ترجیحی، ایجاد ساختارهای حمایتی برای سرمایه‌گذاران، همکاری نزدیک در تطبیق قراردادها و ایجاد اتاق‌های مشترک تجارت میان کابل و تاشکند تأکید کردند.



## امضای توافقنامه جدید برای توسعه بندر تورغندی میان افغانستان و ترکمنستان

در گامی تازه برای تقویت همکاری‌های ترانسپورتی میان افغانستان و ترکمنستان، یک موافقت‌نامه و یک قرارداد مهم در زمینه توسعه و سرمایه‌گذاری بندر تورغندی به امضا رسید. براساس این توافق، بندر خشک تورغندی در ولایت هرات با سرمایه‌گذاری اولیه ۵ میلیون دالر امریکایی گسترش می‌یابد. این پروژه شامل ساخت گدام‌ها، طراحی و احداث تأسیسات جدید برای تخلیه و بارگیری اموال تجاری است. محمد اشرف حق‌شناس سخن‌گوی وزارت فواید عامه گفت: «در متن این موافقت‌نامه، ساخت گدام های جدید و تأسیسات و فعال‌سازی آن برای تخلیه و بارگیری در مسیر خط آهن تورغندی–هرات پیش‌بینی شده است.» او افزود که سرمایه‌گذاری توسط ترکمنستان انجام می‌شود؛ اما تطبیق پروژه در داخل خاک افغانستان براساس قوانین داخلی صورت خواهد گرفت. پس از تکمیل، هزینه آن از عواید همین تأسیسات به شرکت ترکمنستانی پرداخت می‌شود. در همین حال، برخی کارشناسان هرگونه سرمایه‌گذاری در پروژه‌های خطوط آهن را به سود اقتصاد و رشد تجارت افغانستان می‌دانند. محمدکریم عظیمی آگاه مسایل اقتصادی گفت: «ترکمنستان می‌خواهد در زمینه راه‌آهن افغانستان سرمایه گذاری کند و روسیه نیز در این زمینه ابراز علاقه‌مندی کرده است.» عبدالجبار صافی رییس انجمن صنعت‌کاران کابل گفت: «اگر به تاریخ نگاه کنیم، ترکمنستان از کشورهایی است که روابط خوبی با افغانستان داشته است. این کشور در پی ترانزیت انرژی خود از مسیر افغانستان به آسیای جنوبی است، که می‌تواند برای افغانستان درآمد خوبی به همراه داشته باشد.» ترکمنستان یکی از شرکای مهم اقتصادی و تجاری افغانستان به شمار می‌رود. افغانستان علاوه بر خرید برق، نفت و گاز، در پروژه‌های مهم منطقه ای مانند تاپی، فایبر نوری و خط آهن با ترکمنستان همکاری می‌کند. با عملی شدن این پروژه، انتقالات تجاری میان افغانستان و ترکمنستان افزایش یافته و زمینه توسعه بیشتر تجارت منطقه‌ای فراهم خواهد شد.





# لس زره ميګاواټه برېښنا؛ د افغانستان صنعت به په خپلو پښو ودروي

قيس احمد

## سريزه:

افغانستان سره له دې چې د برېښنا توليد پراخې او شتمنې منابع لري، خو لا يې هم ډېره تکيه پر وارداتي برېښـــنا ده. ازبيکســـتان، ترکمنستان، تاجکســـتان او ايران هغه څلور هېوادونه دي چې افغانســـتان د خپلې اړتيا ور شـــاوخوا ۸۰ سلنه برېښنا له دوی واردوي. دا وارداتي برېښنا هم دوامداره او ډاډمنـــه نه ده، ځينې وخت کمـــه او کله ان يو مخ پرې کېږي، چې بيا صنعتي فابريکـــې او عام هېوادوال له ډېرو ستونزو سره مخ وي.

له لسيزو راهيســـې افغانستان د برېښـــنا کمښت له جدي ســـتونزې سره مخ دی، خو هېڅ حکومت يې هم په اساسي ډول د حل فکر ونه کړ. د تېر شل کلن اشغال پرمهال سره له دې چې افغانستان ته په ډېره زياته اندازه پيسې راغلې، خو له هغه سره سره بيا هم په کور دننه د برېښنا له موجودو منابعو څخه د صنعتي ماشـــينونو په حرکت راوستلو او عامو هېوادوالو د کورونو روښانه کولو لپاره ګټه وانخيستل شوه. د پرديو په اشاره ټولې پيسې په وارداتي برېښنا مصرف شوې.

اسلامي امارت واک ته له رسېدو سره سم د هېواد اقتصادي ودې ته ځانګړې پاملرنه وکړه. په دې برخه کې يې تر ټولو زيات تمرکز د برېښـــنا پر تأمين وکړ، ځکه چې برېښـــنا د صنعت اســـاس ګڼل کېږي او د برېښـــنا تأمين بيا پر نورو صنعتي برخو لکه د خدماتو پر وړاندې کولو، د ورځنيو کارونو پر اجراء، د توليد پر کچـــې او همدا راز کرنه د پام وړ اغېز لري.

له نيکه‌مرغه د اسلامي امارت د پرله‌پسې هڅو په پايله کې د تېرو څه باندې درېيو کلونـــو پرمهال په هېواد کې دننه د برېښنا توليد مهمې پروژې پيل شوې دي. يوازې د روان ۱۴۰۴ لمريز کال په پيل کې له لمر، باد او ګازو څخه د هېواد پـــه مختلفو ولايتونو کې د ۲٦۱ ميګاواټـــه په ظرفيت او د ۲۳.۷ ميلیارده افغانيو په پانګونې سره د برېښـــنا توليد د ۷ مهمو پروژو چارې پيل شوې دي.

په دې پســـې جوخـــت دا دي د (عزيزي انرژي) خصوصي شرکت له لوري له اوبو، ډبرو سکرو، ګازو، لمر او باد څخه د ۱۰ زره ميګاواټه برېښـــنا د توليد تفاهم‌ليک لاسليک شو. د دغـــه مقدار برېښـــنا د توليد لپاره ۱۰ ميليـــارد ډالر پانګونه کېږي، چې پـــه لومړي سر کې بـــه ۱۵۰ زره هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر او د هېواد د اړتيا وړ ټوله برېښنا به توليد کړي. د دې برېښـــنا ډېره برخه يعنـــی ٦ زره ميګاواټه يې صنعت ته ځانګړې شوې ده.

موږ په دې مقاله کې د دغه برېښـــنا پر اقتصادي ارزښـــت لنډې خبرې کوو، خو لومړی به صنعتي برېښنا وپېژنو.

## صنعتي برېښنا څه شی ده؟

صنعتي برېښنا هغه برېښـــنا ته ويل کېږي چې د ماشينونو، توليدي وسايلو او صنعتي پروسو د چلولو لپاره په فابريکو او توليدي تاسيســـاتو کې کارول کېږي. دا سيســـتمونه د کم فشـــار، منځني فشار او لوړ فشـــار تابلو برېښـــنا له لارې تنظيمېږي او د رڼا، وسايلو او ماشينونو لپاره برېښنا برابروي. يا په بل عبارت، صنعتي برېښنا د لويې کچې برېښنا ده چې د توليدي او صنعتي اړتياوو لپاره کارول کېږي.

صنعتي برېښنا معمولاً څو برخې لري چې مهمې هغه يې دا دي: د برېښنا توليد، د برېښـــنا توزيع او کنټرول، د برېښنا استفاده، د برېښنايي سيستمونو ډيزاين او نصب، د صنعتي برېښنايي وسايلو ساتنه او ترميم، د اتومات سيستمونو پلان جوړونه او کنټرول او د برېښنايي سيستمونو ستونزې پيدا کول او حلول.

صنعتي برېښـــنا له ډبرو ســـکرو، باد، لمر، اوبو او ګازو څخه توليدېږي، چې افغانستان په پراخه پيمانه دا منابع لري. د صنعتي برېښنا په برکت سره صنعتي فعاليتونه پراختيا مومي، د توليد لګښتونه راکمېږي، د توليد بهير مؤثريت پيدا کوي، برېښـــنا ډاډمنه او دوامداره بڼه غوره کـــوي او په ټوله کې صنعتي برېښـــنا د فابريکو، ترانسپورټ، روغتونونو او ورځني ژوند لپاره حياتي رول ادا کوي. د صنعتي برېښـــنا توليد په زيات شمېر کاري فرصتونه رامنځته کوي او د خلکو د ژوند سطحه ورسره لوړېږي.

## د لس زره ميګاواټه برېښنا د توليد طرحه

د عزيزي انرژي خصوصي شرکت له لـــوري اوبو او انرژۍ وزارت ته له ډبرو ســـکرو، ګازو، اوبو، لمر او باد څخه د لس زره ميګاواټه برېښـــنا د توليد طرحه وړاندې شـــوه. اوبو او انرژۍ وزارت او عزيزي انرژي شرکت پر ياده طرحه بحثونه وکړل او بلاخره يې د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغنـــي برادر اخوند په حضـــور کې د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د اســـد مياشتې په ۱۱مه نېټه تفاهم‌ليک لاسليک کړ.

د دې طرحې له مخې به عزيـــزي انرژي شرکت د لس زره ميګاواټه برېښنا د توليد لپاره لس ميليارد ډالر پانګونه کوي، چې ۳۷۰۰ ميګاواټه برېښـــنا به لـــه ګازو، ۳۴۰۰ ميګاواټه برېښنا به له ډبرو سکرو، ۲۰۰۰ ميګاواټه برېښنا به له اوبو، ۷۰۰ ميګاواټه برېښنا به له باد او ۲۰۰ ميګاواټه برېښنا به له لمر څخه توليدوي.

له ډبرو ســـکرو څخه د توليد په برخه کې په لومړي سر کې په بلخ ولايت کې د چشمه شفا په سيمه کې د ۷۵۰

ميګاواټـــه، د بلـخ ولايت پـــه حيرتان ســيمه کې د ۵۰۰ ميګاواټه، د بغلان ولايت په خواجه الوان دښته کې د ۳۰۰ ميګاواټـــه او د هرات ولايت په کرخ ولســوالۍ کې د ۱۵۰ ميګاواټه پروژې پلان شوې دي. نورې پروژې به له سروې وروسته پلان شي.

لــه ګازو څخه د توليد په برخه کــې بيا له ۲۰۰ تر ۸۰۰ ميګاواټه په ظرفيت د شبرغان، له ۲۰۰ تر ۸۰۰ ميګاواټه پــه ظرفيت د هــرات او د ۸۰۰ ميګاواټه پـــه ظرفيت د شمال حوزې پروژې پـــه لومړي سر کې په پام کې نيول شوې دي، چې نورې پروژې به د ګازو د زيرمو له موندلو وروسته پلان شي.

له اوبـــو څخه د توليد په برخه کې بيـــا د ۲۱۰ ميګاواټه په ظرفيـــت د باغدرې بنـــد او د ۱۸۰ ميګاواټـــه په ظرفيت د سروبي دويم بند پروژې په پام کې نيول شوې دي. په دې برخــه کې به نورې پروژې له اوبـــو او انرژۍ وزارت سره په ګډه مشخصې شي.

له باد څخه د برېښـــنا توليد پـــه برخه کې په هرات، فراه او نيمروز ولايتونو او له لمر څخه د برېښـــنا د توليد په برخه کې هم په مختلفو سيمو کې يوشمېر پروژې په پلان کې نيول شوې دي.

## د دې طرحې اقتصادي ارزښت

افغانستان له اوږدې مودې راهيســـې د برېښنا کمښت له جدي ستونزې سره مخ دی. د دې ستونزې اساسي علت د لســـيزو جګړې او د تېرو حکومتونو بې پامي ده. د برېښـــنا کمښـــت د هېواد پر اقتصادي وضعيت خورا بد اغېز کړی دی، صنعـــت لازمه وده نه ده کړې، په ميليونونو هېوادوال د بې‌کارۍ له وجې نورو هېوادونو ته کډوال شوي او ټولنې لازمه پراختيا نه ده موندلې.

خو اسلامي امارت د دې ســـتونزې د اساسي حل په موخه ټولـــو کورنيـــو او بهرنيو پانګوالـــو ته د پانګونـــې دروازې پرانيســـتې دي او دا دې له نيکه‌مرغه اوس د دې ستونزې د اساسي او دايمي حل په موخه د عزيزي انرژۍ خصوصي شرکت له لوري د لس زره ميګاواټه برېښـــنا د توليد طرحه عملي بڼه خپلوي.

د لس زره ميګاواټه برېښـــنا په توليـــد سره به په هېواد کې صنعتي او اقتصادي انقلاب رامنځته شي. ځکه چې د دې برېښنا ډېره برخه ٦ زره ميګاواټه يې يوازې صنعتي فابريکو ته ځانګړې شوې ده. اوسمهال په ټول هېواد کې شاوخوا ٦ زره فعالې فابريکې لرو، خو هغو ته د اړتيا وړ برېښنا نه ده چمتو شـــوې، چې د دې برېښنا په توليد سره به هغو ته ۲۴ ساعته برېښنا ورکړل شي.

له شک پرته چې په زرګونو نوې فابريکې به هم په فعاليت پيل وکړي. د توليـــد بهير به ګړندی او هېوادوال به د اړتيا وړ توکي په ارزانه بيه ترلاسه کوي.

د دې طرحې له مخې به په لومړي سر کې يوازې د برېښنا توليـــد، نصـــب، ويش او ســـاتنې په برخه کـــې ۱۵۰ زره هېوادوالو تـــه کاري فرصتونه برابر شي. له دې ورهاخوا به په صنعتـــي فابريکو کې پـــه ميليونونو هېـــوادوال په کار وګومارل شي. د ســـړي سر کلني عايد کچـــه به لوړه او د خلکو د ژوند کچه به ورسره ښه شي.

د دې برېښـــنا په واسطه به لرې پرتې ســـيمې او کلي له ښـــارونو سره ونښلول شي، په کليوالي سيمو کې به کوچني کاروبارونه وغوړېږي، هلتـــه به د خامو موادو د توليد کچه زياته شي او په دې سره به د ښار او کلي ترمنځ سوداګريز بهير غښتلی شي.

د کلي او ښار په نښلېدو سره به ترانسپورټ هم وده وکړي، نـــوي ســـړکونه او لارې به جـــوړ شي، ټول هېـــواد به د ترانســـپورټي شـــبکو په واسطه ونښلـــول شي، چې بيا به ســـياحت هم وده وکړي. د بېلابېلو سيمو اوسېدونکي به د نورو خلکو له تجربو، کلتور او عنعناتو سره بلد شي او په دې سره به د هېوادوالو اقتصادي او کلتوري پوهاوی قوي شي.

طبيعـــي ده، کله چې برېښـــنا زياته وي، کرنـــه ورسره په مســـتقيم ډول وده کوي. ځکه د کرنيزو محصولاتو لپاره به ســـړې خونې جوړې شي، شنې خونې به پراختيا ومومي، د ترانسپورټ په وســـيله به کرنيز محصولات په وخت سره تر بازار او مارکېټ پورې ورسېږي، د اصلاح شويو تخمونو او کيمياوي سرو د توليد فابريکې به جوړې شي، کرنيز درمل به بزګرانو ته وراندې شي، نوې او عصري کرنيزه ماشينري بـــه بزګرانو ته په اختيار کې ورکـــړل شي، مالداري به وده وکړي، د لبنياتو د راټولولو، پروسس او بسته بندۍ مرکزونه به زيات شي، د مالدارۍ فارمونه به پراختيا پيدا کړي او په دې سره بـــه د کرنې او مالدارۍ وده د هېـــواد پر اقتصاد مثبت اغېز وکړي.

ټاکل شـــوې چې له ۷ تر ۱۰ کلونو په جريان کې به د دې برېښـــنا پر مټ افغانستان د برېښنا په برخه کې خودکفايي ته ورسېږي او ان بهرنيو هېوادونو ته به هم د برېښنا په





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او تولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباديْ

هفته‌نامه آبادی


برخه کې صادرات ولري. د لس زره میګاواټه برېښنا په تولید سره به د هېواد اقتصادي وده چټکه او اټکل دا دی چې په کلني ډول به د هېواد اقتصادي وده له ٦ تر ٧ سلنې پیاوړې شي.

د دې برېښنا تولید به افغانستان له وارداتي برېښنا خلاص کړي. دا له داخلي زېرمو او تولیدوونکو منابعو څخه استفاده کول دي، چې ګټه به يې ټولو افغانانو ته چې د هېواد په هره سیمه کې اوسيږي، ورسيږي. د دې برېښنا په واسطه به د ټولو هېوادوالو کورونه رڼا شي، هېوادوالو ته به په پوهنتونونو، ښوونځیو، روغتونونو او امارتي اداروکې په ښه ډول خدمات وړاندې شي.

د لس زره میګاواټه برېښنا د تولیدي پروژو، د زرګونو نویو تولیدي او صنعتي فابریکو جوړېدل او د میلیونونو هېوادوالو پر کار مصروف کېدو له لارې به بیت‌المال ته په زیاته اندازه عواید هم جمع شي.

تر ټولو مهم دا چې د دې برېښنا د تولیدي پروژو عملي پیل به زرګونو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې په مختلفو برخو کې د پانګونې دروازې پرانيزي. مغوی به لا باوري او ډاډمن شي چې په افغانستان کې د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې او داسې یو نظام واک ته رسېدلی چې د پانګوالو هر ډول ملاتړ کوي.

## نتیجه ګیری

د لس زره میګاواټه برېښنا تولید په ټوله کې د هېواد د اقتصادي ودې، د میلیونونو کاري فرصتونو رامنځته کولو، د فقر کچې کمولو، د صنعت پراختیا او د کورنیو تولیداتو د پیاوړتیا لپاره یو مهم ګام دی، چې د اسلامي امارت په هراړخیز ملاتړ د عزیزي انرژی خصوصي شرکت له لوري اخیستل کېږي.

دا به د هېواد له اقتصادي ودې سره د پام وړ مرسته وکړي. افغانستان به د برېښنا په برخه کې پر یو صادراتي هېواد بدل او د برېښنا پر مټ به په سیمه‌ییز اتصال کې مهم رول ولوبوي. ټولو هېوادوالو ته به برېښنا ورسيږي، د خدماتو وړاندې کولو بهیر به چټک او لا بهتر شي، ځوانانو ته به په مختلفو برخو کې کاري فرصتونه برابر شي، واړه، متوسط او لوی تولیدي شرکتونه او صنعتي فابریکې به چې د هېواد د اقتصاد د ملا تیر جوړوي، د دوامداره انرژی په ترلاسه کولو سره وده وکړي. له نساجۍ د خوړو تر پروسس، له ودانیزو چارو تر ټکنالوژۍ، له کان کیندنې تر وروستیو تولیداتو پورې، دا چاره به د نوښت او متشبثینو لپاره نوې دروازې پرانیزي، د کورنیو تولیداتو وده به زیاته کړي او افغانستان به د سیمه ییز اقتصاد یو سیال لوبغاړی کړي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکایي ډالر | ٦٨,٢٥؋ | ٦٨,٣٠؋ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلدارې | ٢٣٢؋ | ٢٣٢؋ |
| ١٠٠٠ | ایراني تومن | ٠,٧٥؋ | ٠,٧٤؋ |
| ١ | اروپايي یورو | ٧٩,٠٤؋ | ٧٩,١٠؋ |
| ١ | روسي روبل | ٠,٨٥؋ | ٠,٨٥؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلدارې | ٧٧٩؋ | ٧٧٩؋ |
| ١ | انګلیسي پوند | ٩٠,٧٠؋ | ٩٠,٧٦؋ |
| ١ | سعودي ریال | ١٨,١٩؋ | ١٨,٢٠؋ |
| ١ | اماراتي درهم | ١٨,٥٨؋ | ١٨,٥٩؋ |
| ١ | چیني ین | ٩,٥٠؋ | ٩,٥١؋ |

